امارت اسلامی افغانستان
وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه
# مدیریت حوادث

۱۲ حمل الی ۱۶ حمل ۱۴۰۳

شماره پنجاه و چهارم

## تجلیل از روز جهانی آگاهی‌دهی از خطرات ماین؛ در یک سال گذشته ۹۰ کیلومترمربع زمین از وجود مهمات منفجرناشده پاکسازی شده‌است




از چهارم اپریل روز بین المللی آگاهی‌دهی از خطرات ماین‌ها تحت شعار"نجات زندگی. تامین صلح" با اشتراک معاون سیاسی ریاست الوزراء، سرپرست وزارت دولت درامور رسیدگی به حوادث، رئیس عمومی اداره امور، وزراء، معینان حکومتی، نماینده‌گان دفاتر سازمان ملل متحد در افغانستان و موسسات ماین‌پاکی داخلی و خارجی از سوی وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث در هماهنگی با برنامه ماین‌روبی در کابل تجلیل شد...

ادامه در صفحه۲

## پیښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت د مالي او اداری عمومی رییس د غور ولایت له والي سره وکتل



محترم الحاج مولوي عبدالرحمن زاهد، د وزارت مالي او اداري عمومي رییس او سرپرست له مولوي احمد شاه دین دوست د غور ولایت له والي سره د خپل کار په دفتر کې لیدنه او خبرې وکړې...

ادامه در صفحه۳

## د هرات ولایت انجیل ولسوالۍ زلزله ځپلو ته ۸۰ کورونه له جوړېدو وروسته ووېشل شول



الحاج مولوي شمس الدین حقیار پیښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت د بهرنیو اړیکو رییس او الحاج مولوي محمد عبدالله جان سایق د یاد وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو رییس د هرات ولایت...

ادامه در صفحه۴

## په خوست ولایت کې د استنادی دیوالونو، کانال او پلچک جوړولو پروژو د بنسټ ډبره کېښودل شوه



د خوست ولایت پیښو سره د مبارزې ریاست د UN-Habitat موسسې په مالي ملاتړ او همکارۍ، د یاد ولایت تنۍ ولسوالۍ په دورمالکه کلي کې د ۴۵۰ متره په اوږدوالي استنادي دیوال، په زنده خېلو کلي کې...

ادامه در صفحه ۵

# تجلیل از روز جهانی آگاهی‌دهی از خطرات ماین؛ در یک سال گذشته ۹۰ کیلومترمربع زمین از وجود مهمات منفجرناشده پاکسازی شده‌است



از چهارم اپریل روز بین المللی آگاهی‌دهی از خطرات ماین‌ها تحت شعار"نجات زندگی. تامین صلح" با اشتراک معاون سیاسی ریاست الوزراء، سرپرست وزارت دولت درامور رسیدگی به حوادث، رئیس عمومی اداره امور، وزراء، معینان حکومتی، نماینده‌گان دفاتر سازمان ملل متحد در افغانستان و موسسات ماین‌پاکی داخلی و خارجی از سوی وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث در هماهنگی با برنامه ماین‌روبی در کابل تجلیل شد.

در این برنامه محترم مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزراء گفت: ماین و دیگر مواد منفجره در افغانستان میراث سال‌ها اشغال در افغانستان است، این میراث خونین جان هزاران افغان را گرفته، هزاران تن دیگر را معیوب کرده و هنوز خطر ماین در افغانستان وجود دارد.

معاون سیاسی ریاست الوزراء.ا.ا.ا ضمن قدردانی از کشورها و نهادهای تمویل کننده جهانی برنامه ماین پاکی، از نهادها و سازمان های که در زمینه پاک‌سازی ماین در افغانستان کار می کنند، خواست، که مردم افغانستان را برای رفع خطر ماین، یاری کند.

محترم مولوی عبدالکبیر ضمن یادآوری از مهیا شدن امنیت بهتر، تعهد امارت اسلامی افغانستان را از برنامه ماین‌روبی در کشور ابراز نمود.

در همین حال محترم عبدالرحمن زاهد، رئیس عمومی مالی و اداری و سرپرست وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث، ماین و مواد منفجره ناشده دشمن مشترک همه است و از همه قربانی می‌گیرد و برای پاک کاری ماین‌ها و مواد انفجار ناشده همکاری مردم، مهم وضروری است، به کمک مردم است که می‌توان محلات و کشت‌زارهای ماین را دریافت و آن‌را پاک کاری کرد.

مولوی صاحب زاهد گفت: در کنار آسیب پذیری‌های دیگر یکی از آن کشتزار های ماین و مهمات مفجر ناشده است که همه‌روز از شهروندان افغانستان قربانی می گیرد. وی بیان کرد که زمینه برای پاک‌سازی ساحات ملوث مساعد شده و از رهبری ا.ا.ا خواست تا برنامه ماین پاکی را در بودجه ملی شامل نموده و همچنان خواهان همکاری کشورها و نهادهای تمویل کننده جهانی در این زمینه شد.

سرپرست وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث افزود که پاک‌سازی ماین‌ها زمینه را برای پیشرفت، ترقی و بازسازی کشور فراهم می سازد.

سپس شیخ‌الحدیث مولوی نورالحق انور، رئیس عمومی اداره امور ا.ا.ا گفت: افغانستان متاسفانه چهار دهه جنگ را سپری نموده که خسارات و صدمات جبران ناپذیر را متقبل شده است.

رئیس عمومی اداره امور افزود: در کنار آسیب پذیری های دیگر یکی از آن کشتزار های ماین و مهمات مفجر ناشده است که همه روز از شهروندان افغانستان قربانی می گیرد.
وی بیان کرد که زمینه برای پاک‌سازی ساحات ملوث مساعد شده و اداره ملی مبارزه با حوادث (ا.ا.ا) نیز متعهد به همکاری همه جانبه در این راستا می‌باشد و خواهان همکاری کشورهای تمویل کننده در این زمینه شد.
در ادامه قاری نورالدین رستم خیل رئیس انسجام و هماهنگی تطهیر ماین گفت: برنامه ماین پاکی افغانستان یک برنامه کاملاً بشردوستانه و غیر سیاسی است و همچنان این برنامه توانسته در حمایت مالی کشورها و نهادهای تمویل کننده در سال ۲۰۲۳ بیشتر از ۹۰ کیلومترمربع مساحت را از وجود مهمات و ماین‌ها پاک سازی نموده که از اثر آن، ۲۵۹۵ ماین ضد پرسونل، ۴۸۵ ماین ضد وسایط، ۳۴۰۴ ماین دست ساز را منهدم و برای ۲.۳ میلیون تن در کشور، در باره خطرهای ماین‌های منفجرناشده آگاهی دهی کند و تلاش دارد که امسال هم برنامه آگاهی دهی خود را بیشتر کند.
همچنان او می‌افزاید: در حال حاضر برنامه ماین پاکی در ۲۹ ولایت ادامه دارد و در طول سال گذشته تقریباً ۳۸۲۶ کیلومترمربع زمین در کشور، که آلوده به ماین بودند پاک سازی شده و برای پاک‌سازی ۱۲۰۳ کیلومترمربع ساحه‌ی ملوث با مواد منفجر ناشده، به بودجه نیاز است.
در همین حال محترم نیکولاس ستیفین پاند، رئیس بخش خدمات ماین پاکی ملل متحد در افغانستان(UNMAS) گفت: به نماینده گی از مؤسسات حمایت‌کننده بین المللی در این مراسم افغانستان را یکی از بزرگترین کشورهایی عنوان کرد که شهروندان آن قربانی ماین شده است.
آقای پاند افزود: افغانستان یکی از کشورهایی است که بیشترین قربانی را از ماین و مهمات منفجر ناشده دارد. و برنامه ماین‌پاکی در این کشور به کمبود بودجه مواجه است و از کشورها و نهادهای تمویل کننده جهانی خواست که به اساس وظیفه انسانی باید این برنامه را تا هراندازه‌ای که می‌توانیم حمایت نموده تا جان انسان‌ها را نجات دهیم.
سپس محترم شهاب حکیمی رئیس موسسه MDC گفت: ۷۰ درصد ساحات کشور از وجود ماین‌های منفجرناشده پاک سازی شده است و هم‌کاران ما تلاش می‌کنند که ساحات بیشتری را از وجود ماین‌ها پاک‌سازی کنند.
در اخیر برنامه محترم الحاج مولوی عبدالرحمن زاهد، رئیس عمومی مالی و اداری و سرپرست وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث همراه با معین شهرداری کابل و روسای وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث سنگ تهداب منار یاد بود از شهدای ماین پاکی را در ساحه گولایی پارک ولایت کابل گذاشت.

## پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت د مالي او اداری عمومی رییس د غور ولایت له والي سره وکتل



محترم الحاج مولوي عبدالرحمن زاهد، د وزارت مالي او اداري عمومي رییس او سرپرست له مولوي احمد شاه دین دوست د غور ولایت له والي سره د خپل کار په دفتر کې لیدنه او خبرې وکړې.
په دې لیدنه کې د غور ولایت والي د طبیعي پېښو له امله په دې ولایت کې د خلکو پر ستونزو خبرې وکړې او د طبیعي او غیرطبیعي پېښو له امله زیانمنو ته د رسېدنې او په راتلونکې کال کې د پېښو احتمالي خطرونو مخنیوي لپاره د وقایوي پروژو عملي کولو په برخه کې یې پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت د پاملرنې غوښتنه وکړه.
ورته مهال محترم الحاج مولوي عبدالرحمن زاهد د وزارت مالي او اداري عمومي رییس او سرپرست ووېل: چې غور ولایت د طبیعي او غیرطبیعي پېښو پر وړاندې خورا زیانمن دی چې هر کال د دې ولایت خلکو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړې.
نوموړي د غور ولایت والي ته د پېښو له امله زیانمنو او وقایوي پروژو پلي کولو په برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه.

# د هرات ولایت انجیل ولسوالۍ زلزله ځپلو ته ۸۰ کورونه له جوړېدو وروسته ووېشل شول




الحاج مولوي شمس الدين حقيار پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت د بهرنيو اړيکو رييس او الحاج مولوي محمد عبدالله جان سايق د ياد وزارت د اطلاعاتو او عامه اړيکو رييس د هرات ولايت زلزله ځپلو چارو ته د رسېدنې کمېسيون له مسوولينو سره د يادو زلزله ځپلو لپاره د جوړ شوي ښارګوټي د افتتاح په غونډه کې ګډون وکړ.

د هرات زلزله ځپلو ته د رسېدنې کمېسيون مسوولينو ووېل: چې د HHRD موسسې لخوا ۸۰ کورونه په معياري توګه جوړ شوي او د دې ترڅنګ سولر، برقي وسايل او بېټرۍ هم هغوۍ ته ووېشل شول.

ورته مهال الحاج مولوي شمس الدين حقيار پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت د بهرنيو اړيکو رييس ووېل: چې په لومړنيو ساعتونو کې په ځپلو هڅو سره د پېښې سيمې ته پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت لخوا رسېدنه وشوه او په اوږد مهاله هڅو سره د موسسو له لارې يې د زلزله ځپلو لپاره کورونه جوړ شوي دي.

همدارنګه الحاج مولوي محمد عبدالله جان سايق پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت د اطلاعاتو او عامه اړيکو رييس ووېل: د هرات زلزله ځپلو کورنيو لپاره د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه ټولو هيوادوالو خپلې مالي او ځاني مرستې و نه سپمولې او د دې وزارت سره په همغږۍ يې د نړيوالو او داخلي موسساتو او بنسټونو مرستې و ستايلې چې د هرات د زلزله ځپلو ولسونو د دردونو په کمولو کې مهم رول لوبولی، او په مرسته کوونکو موسساتو او بنسټونو يې غږ وکړ چې د زلزله ځپلو کورنيو لپاره شوې مرستې بسنه نه کوي او دوي لا ډېرو رغنيزو پروژو او مرستو ته اړتيا لري. همدارنګه نوموړي زياته کړه چې د زلزله ځپلو لپاره جوړ شوي ټول کورونه د دې کمېسيون لخوا وړاندې شوي نقشې او څارنې لاندې جوړ شوي او تر دا مهال ۴۰۰۰ کورونه د زلزله ځپلو لپاره جوړ شوي او هوډ لرو چې په راتلونکې کې به ۲۰۰۰ نور کورونه هم جوړ کړو.

په ورته وخت کې الحاج مولوي احمدالله متقي د هرات ولايت د اطلاعاتو او کلتور رييس او د هرات زلزله ځپلو ته د رسېدنې کمېسيون وياند په خپلو خبرو کې ووېل: چې د هرات زلزله ځپلو چارو ته د رسېدنې کمېسيون له موسسو سره په اړيکه کې وو او له نړۍ والو موسسو څخه غواړو چې د دې ولايت زلزله ځپلو ته د رسېدنې په برخه کې له اسلامي امارت سره همکاري وکړي.

همدارنګه د HHRD موسسې رئيس عبيدالله فيصل د اسلامي امارت د مشرتابه او پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارات له مسوولينو څخه مننه وکړه چې ددغې پروژې په تطبيق کې يې ورسره هر ډول همکاري کړې او لازمې اسانتياوې ورته برابرې شوې دي ، او د پروژې په اړه يې ووېل چې نوموړی ښارګوټی د هرات ولايت د انجيل ولسوالۍ د پروانې په کلي د ۱۸.۳ ميليونه افغانيو په لګښت د دريو مياشتو په موده کې په پاخه او اساسي ډول جوړ شو.

د يادونې وړ ده چې په هرات ولايت کې د پرله پسې زلزلو وروسته زلزله ځپلو ته د رسېدنې لپاره يو کمېسيون جوړ شوی وو او د زلزله ځپلو ټولو چارو ته د رسېدنې مسووليت يې پر غاړه درلود او تر هغوۍ به دوام ومومي چې ترڅو د زيانمنو ټولو ستونزو ته رسېدنه وشي.

## په خوست ولایت کې د استنادی دیوالونو، کانال او پلچک جوړولو پروژو د بنسټ ډبره کېښودل شوه



د خوست ولایت پېښو سره د مبارزې ریاست د UN-Habitat موسسې په مالي ملاتړ او همکاري، د یاد ولایت تنۍ ولسوالۍ په دورمالکه کلي کې د ۴۵۰ متره په اوږدوالي استنادي دیوال، په زنده خېلو کلي کې ۱۸۰ په اوږدوالي استنادي دیوال، کوټکیو کلي کې د ۱۷۵ متره په اوږدوالي د استنادي دیوال، د متکي او میروزوګي کلیو کې د ۱۵ متره په اوږدوالي د استنادي دیوال، د ۹۰ متره په اوږدوالي کانال، ۱ پلچک او په روښانه کلي کې د ۴۵۰ متره په اوږدوالي استنادي دیوال جوړولو پروژو د بنسټ ډبره د ۱۸۰۰۰۰ امریکايي ډالرو په ارزښت د یاد ولایت یو شمېر مسوولینو په شتون کې کېښودل شوه.

د یادونې وړ ده چې د دې پروژو په پلي کېدو سره به په یاده ولسوالۍ کې زیات شمېر کورونه او کرنیزې ځمکې چې د سېلاب له خطر سره مخ دي، وژغورل شي.

---

## ۴۰۰ زیانمنو کورنیو په ننګرهار ولایت کې د کورونو ترمیم لپاره نغدی مرستې ترلاسه کړې



د ننګرهار ولایت پېښو سره د مبارزې ریاست د UN-Habitat موسسې سره په همکارۍ، د یاد ولایت کامه ولسوالۍ اړوند ۴۰۰ کورنیو ته چې کورونه یې د طبیعي پېښو له امله زیانمن شوي وو، له سروې وروسته د کورونو ترمیم په موخه د دویم قسط نغدي مرستې ووېشلې.

په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۲۵۰ امریکايي ډالر ترلاسه کړل، د یادونې وړ ده چې یاد شمېر کورنیو ته په لومړي قسط کې ۳۰۰ امریکايي ډالر وېشل شوي وو.

---

## په کونړ ولایت کې ۲۰۸ زیانمنو کورنیو سره نغدی او غیرخوراکی مرستې ترسره شوې




د کونړ ولایت پېښو سره د مبارزې ریاست د IOM موسسې سره په همغږۍ، د یاد ولایت بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۲۰۸ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو له امله یې کورونه زیانمن شوي وو، له سروې وروسته نغدي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۹۲۰۰ افغانۍ، ۱ ژمنۍ البسې کېټ او له یادې جملې ۱۸ کورنیو ته ۱ باب خیمه هرې کورنۍ ته ووېشل شوه.

## ۱۵ زیانمنو کورنیو سره په ارزګان ولایت کې خوراکی او غیرخوراکی مرستې ترسره شوې



د ارزګان ولایت پېښو سره د مبارزې ریاست، د یاد ولایت مرکز اړوند ۱۵ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو له امله یې کورونه ویجاړ شوي وو، له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۱ باب خیمه، ۵۰ کیلو اوړه او ۱ د لوښو کېټ ترلاسه کړل.

## توزیع پول نقد برای ۱۵۶ خانواده متضرر در بادغیس



ریاست مبارزه با حوادث ولایت بادغیس در همکاری با موسسه OCHR و حمایت مالی صندوق بشر دوستانه افغانستان AHF، برای ۱۵۶ خانواده که در ولسوالی مقر آن ولایت از اثر حوادث طبیعی متضرر شده بودند، پول نقد توزیع کرد.
قابل ذکر است که این سومین دور مساعدت بوده که در پنج ولسوالی ولایت بادغیس آغاز شده است، در این دور برای هرخانواده مبلغ ۵,۳۰۳ افغانیپول نقد توزیع شد.

## توزیع مواد غذایی برای ۱۸۰ خانواده آسیب دیده در سمنگان



ریاست مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، برای ۱۸۰ خانواده آسیب دیده از خشک سالی و شهدا و معلولین در آن ولایت، بعد از سروی برای هر خانواده ۵۰ کیلو گرام آرد توزیع کرد.

## برای ۳۸ خانواده آسیب‌دیده در سرپل کمک غیر خوراکی توزیع شد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل در هماهنگی با دفاتر حمایه اطفال و IOM، برای ۳۸ خانواده آسیب‌دیده از سیلاب‌های اخیر در این ولایت پس از سروی مشترک کمک غیرخوراکی انجام داد.

در این کمک برای ۹ خانواده از سوی دفتر IOM به هر خانواده یک باب خیمه با تمام وسایل آن، سه تخته کمپل، یک بسته وسایل ترمیم خانه، یک دانه فرش پلاستیکی، یک دانه سولر خورد، یک بسته وسایل آشپزخانه، یک دانه جارو عادی، یک بسته لباس زمستانی، یک دانه کفش زمستانی و برای ۲۹ خانواده دیگر از سوی دفتر حمایه اطفال به هر خانواده، یک بسته کیت آشپزخانه، یک تخته پتو مردانه، یک تخته پتو زنانه، چهار جوره جراب طفلانه، یک جوره کفش طفلانه، چهارجوره لباس طفلانه، یک عدد رومپر، یک بسته برزنت و یک بسته کیت خانگی توزیع شد.

## توزیع مواد غذایی و غیر غذایی برای ۵۳ خانواده آسیب دیده در فاریاب



ریاست مبارزه با حوادث ولایت فاریاب، در همکاری با موسسه IOM، یونسف و WFP، برای ۵۳ خانواده که از اثر جاری شدن سیلاب های اخیر، درماه حمل سال جاری در این ولایت، متضرر شده بودند، بعد از  سروی مواد غذایی و غیر غذایی، توزیع کرد.

این مواد شامل؛ ۱۰۰ کیلو گرام آرد، ۱۲ کیلو گرام دال‌نخود، ۹ لیتر روغن، یک کیلو گرام نمک‌طعام، ۲ کیلو گرام بسکویت، پلمپی، ۳ تخته کمپل، یک باب خیمه، وسایل آشپزخانه، لباس های زمستانی، وسایل ترمیم سرپناه اضطراری، چراغ های دستی و وسایل بهداشتی بوده که برای خانواده های یاد شده توزیع شد.

## ۶۴ خانواده متضرر در غزنی پول نقد دریافت کردند



ریاست مبارزه با حوادث ولایت غزنی، در همکاری با موسسه DRC و حمایت مالی موسسه BHA در ولسوالی ده یک و مرکز این ولایت، برای ۶۴ خانواده که از اثر ریزش برف و باران متضرر شده بودند، برای هر خانواده مبلغ ۹۲۰۰ افغانی پول نقد توزیع کرد.

## ۸۴ زیانمنو کورنیو سره په لغمان ولایت کې نغدی او غیرخوراکی مرستې ترسره شوې



د لغمان ولایت پېښو سره د مبارزې ریاست د کېوالی نړۍ وال سازمان سره په همکارۍ، د یاد ولایت مرکز مهترلام او بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۸۴ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو له امله زیانمنې شوي وې، له سروې وروسته نغدي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۹۲۰۰ افغانۍ، ژمني البسه، روغتیایي کېټ او له یادې جملې ۱۵ کورنیو ته ۱ باب خیمه هم هرې کورنۍ ته ووېشل شوه.

## په ننګرهار ولایت کې ۲۰۰ زیانمنو کورنیو د کورونو ترمیم لپاره نغدی مرستې ترلاسه کړې



د ننګرهار ولایت پېښو سره د مبارزې ریاست د UN-Habitat موسسې سره په همکارۍ، د یاد ولایت بټي کوټ ولسوالۍ اړوند ۲۰۰ کورنیو ته چې کورونه یې د طبیعي پېښو له امله زیانمن شوي وو، له سروې وروسته د کورونو ترمیم په موخه د دویم قسط نغدي مرستې ووېشلې.
په دې مرستو کې د هرې کورنۍ لپاره ۲۵۰ امریکایي ډالر په پام کې نیول شوي وو، د یادونې وړ ده چې یاد شمېر کورنیو ته په لومړي قسط کې ۳۰۰ امریکایي ډالر وېشل شوي وو.

## توزیع پول نقد برای ۳۰۰ خانواده متضرر در فاریاب



ریاست مبارزه با حوادث ولایت فاریاب، در همکاری با موسسه ورلد ویژن به سلسله کمک های قبلی، این بار برای ۳۰۰ خانواده آسیب دیده از حوادث طبیعی در ولسوالی قیصار این ولایت، به هر خانواده مبلغ ۶۵ دالر امریکائی معادل ۴۵۰۰ افغانی پول نقد توزیع کرد.

## ۱۸ کورنیو په ارزګان ولایت کې خوراکی او غیرخوراکی مرستې ترلاسه کړې

د WFP او IOM موسسو د ارزګان ولایت پېښو سره د مبارزې ریاست سره په همغږي، د یاد ولایت اړوند ۱۸ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله یې کورونه ویجاړ شوي وو، له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۲۰۰ کیلو اوړه، ۲۰ لیټره غوړي، ترپال او یو شمېر نور اړین توکي ووېشل شول.



## توزیع پول نقد برای ۲۷۷ خانواده بی بضاعت در بادغیس



ریاست مبارزه با حوادث ولایت بادغیس، در همکاری با موسسه OCHR و حمایت مالی صندوق بشری دوستانه افغانستان AHF برای ۲۷۷ خانواده بی بضاعت در ولسوالی آب کمری این ولایت، به هر خانواده مبلغ ۵۳۲۰ افغانی پول نقد توزیع کرد.
قابل ذکر است که این مساعدت برای سومین بار، در پنج ولسوالی این ولایت تطبیق شد.